## تعدیل

## د رسنیو کمیټې د جوړیدو، دندو او واکونو لایحه

اساس

لومړی ماده:

دغه لایحه د ټاکنو قانون د (۱۰۸) مادې د حکم پر بنسټ او د ۹۷ مادې (۱) فقرې ، د ۲۷ مادې ، ۷۷مادی(۴)فقرې احکامو ته پام سره، د ټاکنو خپلواک کمیسیون( وروسته له دی کمیسیون) لخوا وضع شوې ده.

موخه

دویمه ماده:

دغه لایحه د ۱۳۹۸ کال د ولسمشریزو ټاکنو لپاره د رسنیو کمیټې د جوړیدو، دندو او واکونو اړونده چارې تنظیموي.

د رسنیو کمیټې جوړیدل، تشکیل او له منځه تلل

دریمه ماده:

(۱) کمیسیون د ټاکنو قانون د احکامو پر بنسټ، په منصفانه او بې پرې توګه د ټاکنیزو مبارزو د نشر او راپور ورکوني څخه د څارنې او د اړوند طرزالعلمونو، پالیسیو له موخو سره مغایرو رسنیزو سرغړونو ته د رسیدنې په منظور معلوماتو ته لاسرسي په رعایت سره، د رسنیو کمیټه رامنځته کوي.
(۲) د رسنیو کمیټه له دریو غړو څخه جوړه شوي ده چې لږ تر لږه یوه غړې یې باید ښځینه وي.
(۳) د رسنیو کمیټه خپل د فعالیتونو طرزالعمل د ټاکنو قانون، د رسنیو قانون، معلوماتو ته د لاسرسي قانون او نورو اړونده قوانین او دغې لایحې په پام کې نیولو سره تسوید او د تصویب لپاره کمیسیون ته وړاندې کوي. دغه طرزالعمل د کمیسیون له تصویب وروسته نافذیږي.
(۴) د چارو د لاښه ترسره کیدو په موخه، د رسنیو کمیټې اجرائیوي کار کوونکې د لنډ مهاله ټاکنیزو کارکوونکو د لایحې او طرزالعمل په پام کې نیولو سره، د کمیسیون د دارالانشاء لخوا ګمارل کیږي.
(۵) د رسنیو د کمیټې ټولې اړونده چارې د کمیسیون لخوا څارل کیږي.
(۶) د رسنیو کمیټه د اړونده کلیدي دندو له سرته رسولو وروسته، د ټاکنو د وروستیو پایلو له اعلان څخه وروسته، حد اکثر د ۴۵ ورځو په موده کې منحل او ټولې اړونده چارې یې، کمیسیون ته لیږدول کیږي.

د رسنیو کمیټې د غړیتوب شرایط

څلورمه ماده:

هغه شخص د رسنیو کمیټې ته نوماند کیدای شي چې د لاندې شرایطو لرونکي وي:

۱. د فغانستان تابعیت ولري.

۲. لیږ تر لیږه د ( ژورنالیزم، مطبوعاتو، حقوقو، سیاسي علومو، عامه پالیسی،ادبیاتو او تولنیزو علومو) په رشتو کې د لیسانس تر کچې لوړې زده کړې کړي وي.
۳. لیږ تر لیږه په رسنیو کې پنځه کاله کاري تجربه ولري.
۴. ښه نوم او شهرت ولري.
۵. د دندې په وخت کې له کوم سیاسي ګوند سره اړیکې او دغړیتوب نه درلودل.
۶. د محکمې په حکم له سیاسي او مدني حقوقو څخه نه محرومیدل.
۷. لیږ ترلیږه د دیرش کلنی عمر بشپړول.

دټاکنوخپلواک کمیسیون
کمیسیون مستقل انتخابات
ریاست دارالانشاء

## د رسنیو کمیټې د غړو ګمارنه

پنځمه ماده:

(۱) په شرایطو برابر ټول کسان کولای شی چی په ټاکل کې شوي وخت خپل غوښتنلیکونه د کمیسیون دارالانشاء ته وړاندې کړي.
(۲) کمیسیون د شرایطو درلودونکو کسانو نوملړ او لنډ نوملړ د ترتیبولو په موخه کمیټه جوړوي.
(۳) مؤظفه کمیټه، د غوښتنلیکوونکو نوملړ او په شرایطو د برابرو کسانو لنډ نوملړ او د مؤظفي کمیټي راپور د مصاحبې او د کمیسیون د غړو ګمارني لپاره، کمیسیون ته وړاندې کوي.
(۴) کمیسیون د مؤظفی کمیټي راپور او د دغې لایحې دریمې اوځلورمې مادې د (۱او۲) فقرې حکم په په پام کی نیولو سره، په شرایطو برابر لس کسان د مرکي لپاره ټاکی او د مرکي پربنسټ د هغوی له ډلې دری ور کسان چې لیږ تر لیږه یو کس یی ښځینه وی، د رسنیو کمیټي د غړو په توګه ټاکي.

## د رسنیو کمیټې داخلي ټاکنې

شپږمه ماده:

(۱) د رسنو کمیټه رییس لري چې په لومړنی غونډه کې، د غړو له منځه ټاکل کیږي.
(۲) د رسنیو کمیټي د رئیس د ټاکلو نصاب، د ټولو غړو په شتون سره بشپړیږي.
(۳) د رسنیو کمیټي رئیس د اکثرو رایو په ترلاسه کولو( دوه رایو) سره ټاکل کیږي.
(۴) که چیرته غړي وه نشي کولای چې په لومړی ناسته کې رئیس وټاکي، کمیسیون د دري ورځو په موده کې د رسنیو کمیټي له غړو څخه یو تن د رئیس په توګه ټاکي.

## د رسنیو د کمیټي غړیتوب له لاسه ورکول

اومه ماده:

(۱) د رسنیو د کمیټي غړي په لاندې حالاتو کې خپل غړیتوب له لاسه ورکوي.
۱. استعفاء.
۲. مړینه.
۳. په شرایطو د نه برابرښت اثبات.
۴. د ټاکنو د قانون په ځانګړي توګه د ټاکنو قانون د اوه ویشتمې مادې حکم تر پښو لاندې کول.
۵. د واکمنې محکمې د قطعي حکم پر اساس له مدني حقوقو څخه محرومیت او یا د جنایت په جرم محکومیت.
۶. د اړونده دندو د ترسره کولو په وخت د بې پرېتوب د نه رعایت په اړه، د معتبرو دلایلو او اسنادو شتون.
۷. له مخکي اطلاع ورکولو او موجه قانوني دلایلو پرته، په دنده کې له ۵ مسلسلو ورځو زیات غیابت.
۸. د رسنیو د کمیټي منحلیدل.
(۲) د دغې مادي په (۱) فقره کې لیکل شوي حالات د کمیسیون لخوا تشخیص او په دې اړه ور تصمیم نیول کیږي.

د کمیسیون مستقل انتخابات
ریاست دارالانشاء

## د رسنیو د کمیټې دندې او واکونه

### اتمه ماده

(۱) د رسنیو کمیټه لاندې دندې او واکونه لري:

۱. د اړونده طرزالعملونو برابرول او تسوید او د تائید په موخه د هغه وړاندې کول کمیسیون ته، دا طرزالعمل د کمیسیون له تائید وروسته د اجرا وړ دی.

۲. د ټاکنو قانون، د رسنیو کمیټې او د کمیسیون لخوا تصویب شویو لوایحو او طرزالعملونو د احکامو په پام کې نیولو سره، په ټولیزو رسنیو کې په منصفانه او بې پرې توګه د نوماندانو، ګوندونو او د سیاسی ګوندونو ائتلافونو د ټاکنیزو سیالیو نشرولو او خپرولو څخه څارنه.

۳. په مجازي پاڼو( فیسبوک، ټویټر، نشریو پورې اړوند رسمي پاڼو) کې د مشخصو آدرسونو لخوا د خپاره شوو مطالبو د نشر څرنګوالي او د تخلف په صورت کې د دغې مادې د ۱۴ بند لومړی فقرې حکم پلې کولو څخه څارنه.

۴. د رسنیز تخلف په اړه، د رای ورکوونکي، نوماند، څارونکي، ګوند یا د ګوندنو سیاسي ائتلافونو، ټولنو او نورو اشخاصو د لیکلي شکایت ثبت او ترلاسه کول.

۵. د ټاکنو قانون او د اړونده لوایحو او طرزالعملونو د احکامو په پام کې نیولو سره، د رسنیزو تخلفاتو په اړه، د ترلاسه شوې شکایت څیړل، رسیدنه او تصمیم نیونه.

۶. د ټاکنیزو کمیسیونونو او ټاکنو پورې اړونده موضوعاتو په اړه، د ټولیزو رسنیو په واقیعت نه ولاړو مطالبو د خپرولو په وړاندې د قانوني تدابیرو نیول.

۷. په ټولیزو رسنیو کې د ټاکنیزو سیالیو په اړه، د نوماندانو، ګوندونو او د ګوندونو سیاسي ائتلافونو لخوا د ټاکنو قانون، د رسنیو او کمیسیون له لوري تصویب شوي لوایحو او طرزالعملونو د نه رعایت په صورت کې د قانوني انضباطی تدابیرو نیول.

۸. ټاکنو پورې اړوند خبري، سیاسي، فرهنګي او ټولنیز پروګرامونه چې د اطلاع رسوني علمي، مسلکي او تخصصي اصول رعایت نکړي او یا یې نقض کړي وي، په اړه یې د قانوني انضباطي تدابیرو نیول.

۹. د رسینو کمیټه، خپل اړونده کړني د خپرولو په موخه د کمیسیون په همغږی د مطبوعاتي، کنفرانسونو، اعلامیو او خبرتیاو په بڼه د کمیسیون د ویب سایټ له لاری خپروي.

۱۰. کمیسیون ته د (اونیزه، میاشتنی، وروستی راپور او د اړتیا په صورت کې څانګړی راپور) وړاندې کول.

۱۱. د رسنیو کمیټې د کړنو او مدیریتي پلانونو ترتیب او تصویبول.

۱۲. د معتبرو حمایوي اسنادو او مدارکو په وړاندې کولو سره، د یوې او یا څو رسنیو د اعتبار لیکونو د بطلان په اړه کمیسیون ته وړاندیز کول.

۱۳. د رسنیو کمیټې سره د همکارو بنسټونو د پروګرامونو او فعالیتونو څارنه.

۱۴. د کمیسیون لخوا د دندو د تر سره کولو لپاره د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون سره، د اړینو همغږیو رامنځته کول.

۱۵. د رسنیزو تخلفاتو پیژندل چې عدلی تعقیب ته اړتیا لري.

۱۶. د رسنیز  تخلف د اثبات په صورت کې له احوالو سره سم لاندې تصمیمونه نیول کیږي:

الف: د اخطاریې صدور او د تخلف اصلاح کول.

ب : له احوالو سره سم له پنځو زرو تر سل زره افغانیو پورې د نقدي جریمې ټاکل او وضع کول.

ج: د شکایتونو کمیسیون له تائید وروسته د عدلي تعقیب لپاره اړونده ذیصلاح مرجع ته د متخلف معرفي کول.

۱۷. د اړتیا په وخت د ټاکنو قانون د نهمې مادې (۱) فقرې د حکم پر بنسټ له ټولیزو رسنیو د همکاریو غوښتل.

۱۸. د کمیسیون له مطبوعاتي ټیم سره همکاري.

۱۹. نورې دندې او مسؤلیتونه چې د کمیسیون له لوري ټاکل او ور سپارل کیږي .

(۲) د رسنيو کميټه د ټاکنو قانون ۷۷مي مادې (۴) فقرې په پام کی نیولو سره د نوماندانو د ټاکنيزو سياليو د مالی چارو د تنظیم څانګې سره په همغږي د نوماندانو څخه رسنيز غږيز، انځوريز، چاپی او برښنايی تبليغاتی راپورنه اخلی او په رسمی توګه يی د نوماندانو ټاکنيز سياليو مالی چارو د تنظيم څانګی ته وړاندې کوي.
(۳) د رسينو کميټه رسنيز بی ارزښته او بی بنسټه نيوکی او شکايتونه د رسيدني لپاره د کميسيون له لاري د شکايتونو کميسيون او نورو ټولو اړونده مراجعو ته استوي.
(۴) د رسنيو کميټه د ټاکنو قانون ۹۸ می مادی او ۹۷ می مادی (۱) فقرى د حکم مطابق سرغړوني او تيروتنې تر څيړنې لاندې نه نيسی. بلکه په دې اړه د شکايتونو د شتون په صورت کي نوموړى موضوع د تړاو له مخي د شکاياتو کميسيون ته راجع کوي.

<u>د رسنيو د کميټي د رئيس دندې</u>

نهمه ماده:

د رسنيو کميټي د رئيس دندی په لاندی ډول دي:

۱. د رسنيو کميټي د غونډو مشري کول.
۲. د رسنيو کميټي د فعاليتونو مديريت او رهبري.
۳. د کميسيون سره په همغږي، اړونده کورنيو او بهرنيو اداراتو کی د رسنيو د کميټي استازيتوب.
۴. د رسنيو کميټي د کارکونکود فعاليتونو څارنه او ارزونه.
۵. د رسينو کميټي اړونده کړنو په اړه، په رسمی او مهمو رسنيزو غونډو، ويناوو او مطبوعاتي کنفرانسونو کي ګډون
۶. نورو بنسټونو ته د رسنيو کميټي اړونده د رسمي مکتوبونولاسليک کول.
۷. د اړتياو په وخت د کميسيون په غونډو کی د رسنيو د کميټي په استازيتوب ګډون.
۸. د دارالانشاءعمومی رياست له لاری د کميسيون غونډې ته، د تصويب په موخه د طرزالعملونه وړاندی کول.
۹. د رسنيو کميټي د غړو په منځ کی د بيان او واقعيتونو د انعکاس پر بنا همغږي رامنځ ته کول.
۱۰. کميسيون ته راپور وړاندی کول.

<u>د کړنلارو وضع کول</u>

لسمه ماده:

(۱) د رسنيو کميټه د اړوند چارو د تنظيم په موخه جلا طرزالعملونه وضع کوي چې د کميسيون له تائيد وروسته د پلي کيدو وړ دي.
(۲) د رسنيو کميټه د طرزالعملونو مسويدې د تائيد په موخه د دارالانشاء عمومي رياست له لاري د کميسيون ناستي ته وړاندې کوي.
(۳) د رسنيو کميټي راپورونه او کړنلارې به د کميسيون د ويب سايټ له لارې خپريږي.
(۴) رسنيزو تخلفاتو ته د رسيدنې څرنګوالی په جلا طرزالعمل کي د رسنيو د کميټي لخوا ترتيب او د کميسيون ناستي ته د تائيد په موخه وړاندې کيږي.

<u>راپور</u>

يولسمه ماده:

(۱) د رسنيو کميټه د کاري دورې او له منځه تلو مخکي د خپل فعاليتونو په اړه ورستنی راپور کميسيون ته وړاندې کوي.

(۲) د رسنیو کمیټه د ورستي راپور برسیره، د کمیسیون د لارښوني په صورت کې د خپلو فعالیتونو په اړه، راپور وړاندې کوي.

د قوانینو سره مطابقت

دولسمه ماده:

د دغې لایحې هیڅ یو حکم د نافذه قوانینو له احکامو سره په مغایرت (ټکر) کې نه تعبیر او نه هم تفسیر کیدلای شي. د مغایرت په صورت کې د اړوند قوانینو احکام د اجراء وړ دي.

انفاذ

دیارلسمه ماده:

دغه لایحه د تصویب له نیټې څخه نافذه او خپریږي.